مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۰/۰۶/۰۱

# د وجدان، پيغرندي او تومتونه

راجپال ياديو، د هندي سينما (باليوډ) يو تکړه ټوکمار هنرمند دی چې په لويشتينک سره مشهور او په لسګونو فلمونو کې ښه ځليدلی دی. پرون مې په فيسبوک کې د نوموړي يو ويډيوي پيغام وليد چې ټول ټال وخت يې له درې دقيقو څخه زيات ندی. د بلا شهرت او پيسو سره سره، زموږ د ځينو فيشني او خيرات خورو سياستوالو په څير نه ښکاريده. د نکټايي درک يې نه لګيده او آرايش يې هم نه وو کړی. مازې يو نازکه شان بنين په غاړه د قرنطين په خونه کې يواځې ناست دی او د نمستې په ويلو سره خپلې خبرې داسې پيلوي:

(لکه د نورو په څير، زه هم پدې سوچونو کې ډوب يم چې د اوو سمندرونو په منځ کې دا کومه ستره هستي چې آباده ده، د هغې ۷۱ سلنه اوبه دي. پاتې يې ځنګلونه، دښتې او غرونه دي او فکر کوم چې له لسو څخه تر پنځلسو فيصدو پورې په پاتې مځکه کې موږ اوه نيم مليارده انسانان ژوند کوو. له کومې ورځې چې زه پيدا يم، همدا يوه خبره اورم چې دا سوپر پاور (زبرځواک) دی او هغه سوپر پاور دی. نن مې يقين راغی چې سوپر پاور صرف يو دی او زموږ د ژوند دا څرخه په پيسو نه تاوېږي او واکمنان يې هم نه چلوي. بلکې اصلي اتلان يې دغه ډاکټران او نرسان دي چې د مرګ سره لوبې کوي، د ټرکونو دغه موټر وانان دي چې خلکو له خواړه راوړي او دغه جارو کشان دي چې لارې او کوڅې پاکوي. دا ژوند به هله نور رنګين او خوندور شي، کله چې وجدان له زنګ څخه پاک شي).

نه پوهيږم چې د مهاتما ګاندي دغه هيوادوال، ځان د رحمن بنده ګڼي او که د بګوان، ور به شي خبر به شي. خو زما يې ددې ساده مګر تيله دارې فلسفې له دوو ټکو سره غرض دی، وجدان او اتلان. راجپال پداسې ټولنې کې سترګې غړولې چې ژوند يې طبقاتي دی، کاست ورته ويل کيږي او خلک په پنځو درجو (کټه ګورۍ يو) باندې ويشل شويدي. خو موږ د يوې عقيدتمندې ټولنې په توګه، يو برابر رعيت يو، د برترۍ معيار مو ډيره تقوی او ښه انسانيت دی. افغانان پدې وروستيو څلورو لسيزو کې د يو نوي جنګي کلتور او د نازونو له ذهنيت سره اشنا شويدي، پردي خو پريږده، حتی له نورې اسلامي نړۍ سره چورلټ توپير لري.

زموږ په هيواد کې، سبا بيګاه، د جهاد، الحاد، فساد، مقاومت او غنيمت بحثونه دي. د دمونو، بمونو او تورتمونو شعارونه اوريدل کيږي. په سياسي غونډو، محرابونو او منبرونو کې، د قصورونو او قبرونو تراني زمزمه کيږي. د هرې ډلې مقتول شهيد او جنتي دی او د مقابل لورې هر وژل شوی کس مردار او دوزخي دی. ژوندي بې قدره دي خو د مړو په ګومبزو د خيراتي پيسو مليونونه ډالرې مصرفيږي. د هر شين بيرغ په ټنډه ليکل شوي (وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا) مګر د عمل په ډګر کې د پيښوريانو په اصطلاح، خبره اپوټه او د غوښې او چړې ده. له اغيارو سره معاهدې امضاء او ښې سياسي چنې ووهل شوې، مګر د عبادت او مغفرت په سپيڅلې مياشت کې د مسلمانو وطندارانو ژښته پريمانه وينې تويې شوې.

د الحادي نظام وروستي مشر، ډاکټر نجيب الله د مکرويانو په يو کرايي کور کې اوسيده، ولی د جهادي نظام واړه واړه قومندان صيبان په شيش محلونو کې ژوند کوي. په جرمونو تورن جګړه ماران سپين بازان شول، نور وپرسيدل او لا زيات و نازول شول. خو همدغه خلک د پيرنګيانو څخه د خپلواکۍ د ګټونکي ملي اتل، اعلی حضرت امان الله خان په قهرمانی باندی شکمن دي. ددغه ځوان ټولواک د زيارت له ځنګ څخه په منډه تيريږي، په قبر يې د فاتحې لوستل بدعت ګڼي او درناوی يې سياسي مصيبت بولي.

د الجزائر ولس، فرانسوي استعمار (۱۸۳۰ - ۱۹۶۵م) ته ماتې ورکړه او په ګاونډۍ ليبيا کې د دغه صحرايي هيواد باتورو خلکو د عمر المختار په مشرۍ د ايټالوي يرغل په وړاندی (۱۹۱۱ - ۱۹۵۲م) حماسې وزيږولې. پدغو دواړو هيوادونو کې په مليونونو خلک شهيدان شول، هر غازي ته د ننګيالي په سترګه کتل کيږي، مګر د هيڅ چا په اوږو د مارشالۍ ستوري ندي ټومبل شوي او نه چا ته ملي اتل ويل کيږي. يواځې (المختار) ته د شيخ الشهداء لقب ورکړل شوی او قبر يې ګومبزه نلري.

له منځنيو پيړيو را واخله تر ننه، افغانستان يواځنی بدمرغه هيواد دی چې په ځلويښتو کلونو کې، د دوه نړيوالو زبر



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځواکونو او دوه سيمه ايزو پهلوانانو د اشتها ښکار شويدی. په همدی څلورو لسيزو کي، افغانستان د څلورو ضد او نقيضو نظامونو د لابراتوار په توګه و کارول شو، مګر د هرې ازميښتې پايلې منفي او د درمل په ځای د درد سبب شوې.
ديانت د خالق او مخلوق ترمنځ د اړيکې نوم، د معرفت ځانګړی ادرس او يوه فردي مسئله ده. خو د خلق او پرچم خونړي رژيم، جهادي او تنظيمي واکمنی، د امارت او خلافت اسلامي نظام او د غربي ډيموکراسی او جمهوريت دغه اوسني معجون، هر يو په نوبت نوبت سره هغه د خپلې ايډيالوژۍ په خم کي رنګ کړ. هر يو جلا جلا هڅه وکړه چي هغه ته د خپلې هنداري په څلا کې انعکاس ورکړي. له بله پلوه، د معيشت ښه کول، د ولس غږ ته غوږ نيول او د ټولنيز عدالت پلي کول د هر دولت او حکومت بنسټيزه دنده وي، خو دغه څلور واړه نظامونه د قدرت په تيل ماتيل کې پاتې راغلل.
انتخابات چي په شرعيت کې مهم ځای لري او د ډيموکراسی او  ولسي ارادې تمثيل دی، په غړيدلو سترګو مو وليدل چي دغه ملي پروسه څرنګه اغوا شوه او په څومره مهارت سره د زور واکو او بلواکو د هوسونو په درشل کې نذرانه شوه؟ همدغه ډلې ټپلې د زرګونو افغانانو له قاتل سره د همدردی په بهانه د سفارتونو طوافونه کوي او په سيند کې د لسګونو وطنوالو په مرګ، بيا مرګوني سکوت اختياروي.
اروا پوهان د وجدان تعريف داسی کوي: (وجدان يو پټ غږ او ژور احساس دی، چي هر عاقل انسان د هغه له لارې سم له ناسم څخه جلا کوي او د شر په ځای يې د خير خوا ته بيايي) د څلورو لسيزو د ناترسي جګړې په لمبو کې ايره شوې ارواوې، ددی لا ځوابه پوښتنو د ځواب په تمه دي چي: آيا زموږ د برخليک ټيکه دارنو کله هم له ځان سره دا محاسبه کړې چي دوئ د وجدان له محکمې، پيغړندو او تومتونو څخه خوندي دي؟  آيا دوئ رښتيا هم دا احساسوي چي واکمني باداري نده، بلکې يو مسئوليت دی؟ آيا دوئ دا مني چي د بل منل، د ولسونو د عروج زينه او تعصب او پردې پالنه، د زوال او بربادی پيلامه؟
وخت او تاريخ به راتلونکو نسلونو ته ستاسي د ملامت او سلامت خبرې را وسپړي او د پټو رازونو صندوقچې به مو حتما يوه ورځ ماتې کړي، خو بيا به ډير ناوخته او اوبه له ورخه تيرې وي **!؟**

---

يوه هيله: د پښتو د نړيوالي ورځې په مناسبت د قلم، ژبې او فکر له خاوندانو څخه هيله کوم چي خپله مورنۍ ژبه د ټکنالوژۍ، سيالی او برابرۍ رجې ته سيخه کړي. استغناء ښه ده، مګر دا ژبه لا زياتې غنا ته اړ ده، ځکه موږ خالق تعالی ته د لمونځ نيت په پښتو تړو، بيا ورته د قرانکريم په ژبه زارۍ او عبادت کوو.  مننه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ